# پښتو شاعرۍ کښې د سېلاب تذکره: یوه اجمالي تاریخي او تجزیاتي مطالعه

**Exploration of Floods in Pashto Poetry: A Brief Historical and Analytical study**

Dr. Noor Ul Basar Aman *
Ibad Ur Rahman **

**Abstract:**

Pashto literature encompasses a diverse array of themes, reflecting various facets of life. Among these themes, natural calamities such as rains and floods feature prominently. When water surpasses its usual volume, it transforms into a flood, often resulting in widespread devastation. Floods have occurred at different times in Pakhtunkhwa, causing significant human and financial losses. These tragic events have found expression in the works of poets, adding to the richness of Pashto literature. This research paper investigates the poetry dedicated to the subject of floods within Pashto literature.

**Keywords:** Floods, Pashto Poetry, History of Floods in Pakhtunkhwa, Flood 2010 & 2022.

د کله نه چې انسان د دې زمکې په مخ سترګې غړولې دي نو د هغه وخت نه د ډېرو قدرتي، طبعي، معروضي او موسمي حالاتو او بدلونونو سره مخ شوے دے۔ هم دې سړو تودو حالاتو د ژوند په راز او معنیٰ پوهه کړو۔ د دغې حالاتو سره د مسلسل مقابلې په برکت ئې د ترقۍ منزلونه او پړاوونه سر کړل او دا دے نن په یوه مهذبه او پرمخ تللې نړۍ کښې غزونې کوي۔ د انساني تهذیب د دې زوال او کمال قصه ډېره اوږده او خوږه ده۔ په دغه قصه کښې څۀ فطري واقعات داسې دي چې بالکل د هېرېدو نۀ دي ولې چې زمونږ ژوند ئې بیخي په بله اړولے دے۔ په انساني نفسیاتو د دغه پېښو دومره ژورې اغېزې وشوې چې د لاشعور برخه ئې وګرځېده او کله چې یو حساس انسان دغه یادښتونه قلم او کاغذ ته په لطیفه پېرایه کښې وسپارل او خپل احساسات او جذبات ئې ورسره ملګري کړل نو ادب ئې ترې جوړ کړو۔ چې مقصد ئې نۀ یوازې خپل کتهارسس کول وو بلکې ځان ته دغه ترخې ورځې شپې یادول او خوندي کول هم وو۔ په دغه پېښو کښې سېلاب یوه داسې ناوړه پېښه ده چې یوه نړۍ ئې متاثره کړې ده او کۀ مونږ د نړیوال ادب نه راتېر شو او پښتو ادب ته ځیر شو نو د سېلاب د

* Assistant Professor, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.
** Ph.D. Scholar, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.

ذکر او فکر نه برجقه د شاعرۍ یوه لویه خزانه پهٔ لاس راځي ځکه چې پښتانهٔ د مودو راهسې د سیندونو پهٔ غاړه او د کوهِ هندوکش، کوهِ همالیه او کوهِ سلېمان پهٔ لمن کښې اوسېږي۔

پهٔ دې مقاله کښې به د سېلاب پهٔ موضوع پهٔ پښتو کښې د تخلیق شوې شاعرۍ یوه لنډه تاریخي او تجزیاتي مطالعه وړاندې کولے شي۔

د سېلاب اصطلاح د هغه اوبو د پاره استعمالیږي چې پهٔ ګڼ شمېر کښې او د حد نه پهٔ ډېر حساب سره راشي او د ځان سره اوچه زمکه هم ډوبه کړي [1] ۔ لکه چې د نوم نه ئې ښکاره ده چې سېلاب یو مرکب تورے دے، چې د عربۍ د "سیل"، چې معنیٰ او مفهوم ئې "طغیاني، د اوبو تېز بهاو، یا سېلاب" [2] دے او "آب" پهٔ سنسکرت او فارسۍ کښې د اوبو پهٔ معنیٰ کښې پکاریږي۔

اکسفورډ ډکشنري د سېلاب پهٔ باب له لیکي:

"An overflow of a large amount of water beyond its normal limits, especially over what is normally dry land."[3]

ترجمه: د اوبو د خپل عمومي مقدار نه پهٔ زیاته پیمانه بهېدل، پهٔ خاصه توګه پهٔ اوچه زمکه باندې ۔او مریم وېبسټر ئې پېژندګلو څهٔ داسې کوي:

"A rising and overflowing of a body of water especially onto normally dry land."[4]

ترجمه: د اوبو سطحه راختل او د خپل لوښي نه پورته بهېدل پهٔ خاصه توګه پهٔ اوچه زمکه د پاسه۔

د سېلاب د راتللو ګڼ شمېر وجوهات کېدے شي لکه د بارانونو د زیاتوالي( چې پهٔ سبب ئې د تالابونو، خوړونو، سیندونو او دریابونو د اوبو سطح اوچته شي او پهٔ مورګو او پشتیو واوړي)، نړیوالې تودوخې (چې ایمالونه (Glaciers) پهٔ تېزۍ سره ویلي کوي)، د ډېمونو د چاودلو، موسمي بدلون، ځنګل وهنې، د اوبو ولې او د اخراج نالیو د بندېدو یا غلط انتظام او د سیندونو او خوړونو سره د ډېرې نژدې ابادۍ کولو پهٔ وجه سېلاب راتلے شي ۔ د دې نه علاوه د هارپ [5] (HAARP) ټیکنالوجي پهٔ ذریعه هم سېلابونه راوستلے شي۔

هسې خو د سېلابونو تاریخ دومره پخوانے دے څومره چې د انسان تاریخ زوړ دے او کهٔ د نړۍ پهٔ تاریخ یو سرسري نظر واچولے شي نو داسې برېښي چې دې زمکې بې شمېره سېلابونه لیدلي او زغملي دي ، چې د نوح (ع) د قوم طوفان او سېلاب پکښې د ټولو نه زیات زوردار

وۀ او داسې کۀ مونږ پۀ پښتنه منطقه کښې سترګې ښکار کړو نو هم دا خبره ثبوت ته رسوي چې دا خاوره کۀ يو طرف ته بهرني يرغلګرو پائمال کړې ده نو بل اړخ ته قدرتي افتونو او موسمي حالاتو هم ښۀ ځپلې ده ـ او څۀ رنګ چې د پښتون قام د تاريخ کړۍ ځاے پۀ ځاے ماتې شوي دي، هم دغه شان د دې خاورې د موسمي حالاتو او جغرافيائي تاريخ مزے هم ځاے پۀ ځاے غوځ شوے ښکاري ـ سېلاب پۀ دغه قدرتي افتونو کښې يو داسې افت دے چې د پښتنې ټولنې (د ماضي او حال) پۀ مخ ئې ژور چاپ پرېښے دے ـ
پۀ پښتون وطن د سېلابونو اغاز او سر لۀ کومه ونښتلو؟ دا هېڅ پته نۀ لګي ځکه چې د کوم وخت نه دا دنيا اباده شوې ده او پښتون قام پۀ دې منطقه د ژوند اغاز کړے دے نو ظاهره ده چې پۀ دوي به پۀ ماضي کښې ډېرې ښې بدې راغلې وي ـ خو تر کومه حده چې د ليکلي تاريخ خبره ده نو پۀ پښتو کښې پۀ وړومبي ځل مونږ ته د خوشحال بابا پۀ کلام کښې د سېلاب پۀ حقله څۀ شهادتونه پۀ نظر راځي ـ هغوي د سېلاب پۀ حواله د مذهبي روايت (د باران د هر څاڅکي سره يوه فرشته راکوزېږي او کوم څاڅکے چې بغېر د فرشتې نه راکوز شي نو هغه د تندر شکل اختياروي) مطابق دا عقيده لري چې سېلاب پۀ څو څاڅکو سره راځي چې بنياد ئې نه وي او غوبل جوړ کړي او ورپسې وړاندې وائي چې کۀ سېلاب هر څومره ډېر راشي خو چې د درياب لوښے ورته لوے وي نو بيا هېڅ نقصان نۀ کوي ـ لکه چې پۀ يوه رباعي کښې ليکي:

"سېلاب پۀ څو څاڅکي غوبړ پېدا کا
بنياد ئې نيشته غړ بړ پۀ دا کا
چې لوي وي نور ئې صفت ثنا کا
درياب چې لوي وي کله غوغا کا"[6]

د خوشحال بابا نه علاوه رحمان بابا هم پۀ خپل ديوان کښې د سېلاب لفظ پۀ مجازي او حقيقي معنو کښې راوړے دے ـ د نمونې پۀ توګه ترې څو شعرونه دلته رانقل کولے شي:

"هر چې ژغوري سر و مال پۀ عاشقۍ کښې
هغۀ کړے کور پۀ مخ کښې د سېلاب دے"[7]

"هر چې کښت ئې په باران او په سېلاب وي
د هغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملک چې پکښې سیند و رودبار نۀ وي
دهقانان به ئې همه خانه خراب وي"[8]

"لا به کله بارانونه پرې نزول شي
چې نخیل و زراعت ئې په سېلاب وي"[9]

"لۀ خالي خونې به څۀ وړي چې څۀ نۀ وي
کۀ ختلے د حباب په سر سېلاب وي"[10]

د معلوماتو تر مخه په پښتنه سیمه کښې تر دې دمه یو شمېر سېلابونه راغلي دي چې پکښې د ۱۹۲۹، ۲۰۱۰ او ۲۰۲۲ء سېلابونو شدت او حدت د چا نه پټ پناه نۀ دي او دغه درد او وير مونږ ته په پښتو شاعرۍ کښې بې شانه ډېر محسوسيږي ـ

د يادونې وړ ده چې د ۱۹۲۹ء د سېلاب په ليکلي تاريخ کښې هېڅ څۀ ذکر نشته خو سينه په سينه د مشرانو په خلۀ د دغه ناورين ذکر او فکر کيږي ـ په دې حقله د پښتنو د رومان شهزاده ښاغلے رحمت شاه سائل د اګست ۲۰۱۰ء په پښتون مجله کښې داسې ليکي:

"ما ته په کلي کښې تقريباً د ۱۱۰ کالو يو مشر ووې چې دغسې سېلابونه اتيا کاله مخکښې راغلي وو، څو ورځې پس زۀ د دغې بې تعليمه مشر دغې ټيک حساب ته هغه وخت حېران پاتې شوم چې خلقو د هغې سېلاب تاريخ ۱۹۲۹ء په خپلو تحريرونو کښې وليکۀ ـ"[11]

اروابښاد محمد نواز طائر صاحب د کال ۱۹۳۵ء د يو سېلاب ذکر هم کوي خو دا قوي امکان لري چې د سائل صاحب د وېنا ترمخه د ۱۹۲۹ء او د طائر صاحب د يادکړے شوي د ۱۹۳۵ء کال دواړه سېلابونه يوه واقعه وي ـ په " ټپه او ژوند" نومې کتاب کښې طائر صاحب "د اباسين الميه" د سرخط لاندې په پښتونخوا کښې د سېلابونو د راتللو علتونو او وجوهاتو بيانولو نه پس د راغليو سېلابونو په حقله داسې ليکي:

"په کال ۱۹۳۵ء کښې د سوات سيند لويه تباهي کړې وه ـ د چترال سيند کال په کال داسې ورانے کوي ـ په چترال کښې ۱۹۶۲ء کښې يو خوړ داسې راوتے وۀ چې سالم کلے

ئې سره د ګټو ختو او بنیادمو ځاروؤ سیند ته ویشتے وۀ ـ سېلاب د شپې راغلے وۀ او سبا چې د خواوشا کلو خلق خبرېدل نو پۀ هغه ځا ے د سېلاب اثار پاتې وو ـ پۀ شپږ ویشتم مارچ ۱۹۶۷ء پۀ پېښور او خواوشا کلو هم لوي سېلاب راغے ـ ډېر کلي او کورونه ئې وران کړل ـ د ځینې سېلابونو چې د راتلو تاریخونه د "لوي غم" (۱۲۲۴) او "دریاب غم" (۱۲۵۷) هجري پۀ ټکو کښې محفوظ کړ ے شوي دي ـ"[12]

پۀ پورته متن کښې د پینځو سېلابونو کالونه او زړۀ دردوونکي واقعات ورکړ ے شوي دي چې پکښې د وروستي ذکر شویو تاریخونو نېټې تحقیق طلب دي، ځکه چې اول خو د "لوي غم" نه ۱۰۸۶ راوځي نۀ چې ۱۲۲۴ او پۀ ۱۰۸۶ هجري کال کښې د هېڅ قسم سېلاب ذکر نۀ د ے راغلے او نۀ طائر صاحب د دغه دواړو تاریخونو څۀ حواله ورکړې ده ـ خو خبر هر کله چې پۀ پښتو ټپه کښې د اباسین، نوښار او دې سره د تړلے شویو دردوونکیو احساساتو او جذباتو د تعلق خبره ده نو دا هم د هغه خونړي سېلاب عکاسي ده، کوم چې پۀ کال ۱۹۲۹ء یا ۱۹۳۵ء کښې راغلے وۀ ـ پۀ پښتو ټپه کښې د دغه تباهۍ او بربادۍ نقشه څۀ دا شان وړاندې شوې ده:

"اباسین بیا پۀ چپو راغے
پۀ سر ئې راوړۀ سپینې خلې زېړ پېزوانونه
اباسین بیا پۀ چپو راغے
جونې منګي ورزغلوي چې کم دې شینه
اباسین بیا چپې چپې د ے
هره چپه ئې ورانوي د پګړۍ ولونه
اباسین راغے غاړې غاړې
پۀ سر ئې راوړۀ کشمیري ریښمین شالونه"[13]

یا دا ټپې چې:

"راغلے مۀ و ے اباسینه
پۀ نیمه شپه دې نوښار لوټې لوټې کړونه"[14]
" کۀ اباسین راغلے نۀ و ے

پۀ ګنګخړو کښې به چا موندل ټيکونه"[15]

دغه شان د اګست او ستمبر ۱۹۷۳ء کښې هم يو سېلاب داسې راغلے دے چې د ډېرو خلقو کورونه، کاروبارونه او فصلونه ئې تباه کړي دي[16] ـ دا سېلاب د اباسين پۀ غاړه غاړه تېر شوے وۀ ـ اروابناد پرېشان خټک پۀ يو نظم کښې د دې سېلاب د تباهۍ او بربادۍ حال بيان کړے دے ـ لکه چې وائي:

"مصيبتونه، افتونه دې راځي چې راځي
دا ټول ناترسه طوفانونه دې راځي چې راځي
خو دا ګټان وربخې څۀ کوي لګيا دي
خوني سيندونه عالمونه غرقوي لګيا دي
يو اژدها ده د اوبو چې پۀ غړمبا رادرومي
خړې اوبۀ دي چې ښارونه ډوبوي لګيا دي"[17]

د هند د تقسيم نه پس د پاکستان پۀ تاريخ کښې تر اوسه پورې يو کم دېرش سېلابونه راغلي دي[18] ـ تقريباً هر کال يو خونړے سېلاب راغلے دے او دغسې ئې د ځېلي اولس زړونه دردولي دي خو کوم سېلاب چې پۀ ۲۰۱۰ء کښې راغلے وۀ او يا بيا اوس اوس د ۲۰۲۲ء سېلاب کومې تباهۍ کړي دي ، شائد چې بل کوم ځاے کښې ئې داسې کړي وي ـ دا ځکه چې پاکستان او پۀ خصوصي توګه پښتونخوا د کوهِ هندوکش نه د راوتونکيو چينو، خوړونو او سيندونو ته بيخي نژدې او پۀ لاره کښې پرته ده او د موسمي بدلون نه نېغ پۀ نېغه او ډېر زر متاثره کيږي ـ د ۲۰۱۰ء د پشکال سېلاب پۀ ټول ملک کښې يو قيامت خېز منظر جوړ کړے وۀ ـ دا سېلاب دومره تېز وۀ چې د سُپر فلډ پۀ نامه ياد کړے شو ـ د خېبر پښتونخوا د فنانس ډيپارټمنټ لۀ خوا د يوې سروے تر مخه:

> "The 2010 monsoon flood disaster in Pakistan was massive and unprecedented, killing more than 1700 persons, affecting over 20 percent of the land area, more than 20 million people, and causing loss of billions of dollars through damages to infrastructure, housing, agriculture and livestock, and other family assets."[19]

ژباړه : پاکستان کښې د ۲۰۱۰ء د پشکال سېلاب تباه کاري پۀ ډېره غټه پېمانه او بې مثاله وه، دې کښې ۱۷۰۰ نه زيات خلق مړه شوي او شل فيصده اوچه زمکه ئې متاثره کړې

وه، دوه کروړو نه زيات خلق ئې متاثره کړي وو او د بنيادي ډهانچو، کورونو، زراعت، څاروو او کورني اثاثو په مد کښې د اربونو ډالرو د نقصان سبب جوړ شوے وۀ۔

او د فيډرل فلډ کميشن (FFC) مطابق يو لاکھ شپېته زره مربع کلوميټره زمکه متاثره شوې، اولس زره پينځه سوه درې پنځوس کلي تباه شوي او نولس سوه پينځه اتيا کسان پکښې مړۀ شوي دي[20]۔

د سېلاب دغه ترخو ورځو شپو د پښتو ژبې شاعران داسې وردرول چې په خپلو غزلونو او نظمونو کښې ئې تر عمره عمره خوندي کړو۔ په دوي کښې د حبيب الله بېتاب او ډاکټر محمد زبېر حسرت نومونه د يادونې وړ دي او داسې ښکاري چې دې ښاغليو د سېلاب د ختمېدو نه پس دغه احساسات او جذبات قلم ته سپارلي وي۔ اروا ښاد بېتاب د سېلاب دغه تباهئ دومره زورلے دے چې د خپل وطن د سپرلو، د خاورې د کورونو، چينو او چينارونو، سيندونو، بارانونو او ان تر دې چې د خپلو شعرونو نه هم کرکه کوي، لکه چې وائي:

"د دې وطن د موسمونه نه مې کرکه وشوه
قسم په خدا ے د بارانونو نه مې کرکه وشوه
زما په وينې وينې زړۀ چې به ټکور لګېده
اوس د چينو او چنارونو نه مې کرکه وشوه
مونږ چې په مينه ودان کړي وو د زړۀ په وينو
د هغه خاورو د کورونو نه مې کرکه وشوه
زما په سر چې ئې د سر سېوري هم تاته نۀ که
د خپلې خاورې د سيندونو نه مې کرکه وشوه
ماته ئې بيا د پښتونخوا هغه سېلاب رایاد کړۀ
بېتابه ستا د دې شعرونو نه مې کرکه وشوه"[21]

دغه شان ډاکټر محمد زبېر حسرت د "سېلاب" د عنوان لاندې يو نظم ليکلے دے چې پکښې ئې د پښتونخوا د سيندونو د ډب کېدو لۀ کبله د ډوب شويو کورونو او لاړو کوڅو وران ويجاړ منظر ډېر په زبردست انداز کښې بيان کړے دے۔ هغه اباد کورونه چې د سېلاب بې رحمه چپو په صحرا، بيابان او شاړه دشته کښې بدل کړي وو او د "لنډي" سيند هغه

خونخوارې چپې چې ئې د جنت جنت وطن انسانان ، ښاروي او جاړې غنې لواړ تېر کړي وو، ټول پۀ دې نظم کښې پۀ ډېره دردناکه او خوندناکه پېرايه کښې ځائے شوي دي:

"د هر ښاڅکي پۀ خلۀ کښې د مرګ لاړه وه چې راغلم
پۀ سر مې د سېلاب چپه ولاړه وه چې راغلم
سيندونه وړاندې نۀ وو روان، بېرته راروان وو
زما د کور کوڅه د ګودر غاړه وه چې راغلم
نۀ کلے وۀ، نۀ کور وۀ، نۀ کوڅه وه، نۀ دالان وۀ
صحرا وه، بيابان وۀ، دشته شاړه وه چې راغلم
ويرانه ويراني لکه زما د زړۀ دنيا وه
زما د هر ارمان خونه ويجاړه وه چې راغلم
د ويرې او هېبت پۀ مخ هم ويره او هېبت وۀ
نۀ ونه وه، نۀ غنه وه، نۀ جاړه وه چې راغلم
نهنګ غوندې ئې لواړ لۀ ستوني هر څۀ تېر کړۀ، لاړه
چپه د لنډي سين د بلا داړه وه چې راغلم
حسرته! لوئے اسمان مې چا لۀ سره وۀ رانسکلے
او زمکه مې د پښو د لاندې لاړه وه چې راغلم"[22]

اختر جاويد اختر او زرين پريشان يو بل ته پۀ جوابي شعرونو کښې د سېلاب ذکر څۀ په دې رنګ کښې کړے دے۔

د سېلابونو ، د وحشت خبرې مۀ يادوه
مونږ په سلګيو کښې د مودو مودو اختر کړے دے
چرته چې سلګۍ مو ، ماتمونه وي
هلته د اختر تصور نۀ کيږي
چرته چې کورونه سېلاب وړي وي
هلته کښې اختره! اختر نۀ کيږي[23]

د ۲۰۱۰ء نه پس چې کوم سېلاب ډېر خطرناک، دردوونکے او خونړے وۀ نو هغه د کال ۲۰۲۲ء سېلاب وۀ چې د تاريخ پۀ پاڼو کښې د فلېش فلډ (Flash Flood) پۀ نامه ياد کړے شو ـ د دې سېلاب دورانيه د ۱۵م جون نه تر اکتوبر ۲۰۲۲ء پورې وه او د پاکستان دريمه برخه ئې د اوبو لاندې کړې وه[24] ـ د ۱۸م نومبر ۲۰۲۲ء د اېن ډي ايم اے د روزانه حالاتو د اخري رپورټ مطابق پکښې ۱۷۳۹ انسانان او ۱۱۶۴۲۷۰ څاروي مړۀ شوي (چې زياتره پکښې د بلوچستان وو)، ۸۹۷۰۱۴ کورونه تباه شوي، ۱۳۱۱۵ کلو ميټره سړکونه ، ۴۳۹ پلونه او د دوه ويشت زرو نه زيات سکولونه وران شوي وو[25] ـ دغه شان د ورلډ بېنک د يو رپورټ تر مخه ۳۰ بلين امريکائي ډالره معاشي زيان رسېدلے وۀ چې پۀ بيا رغونه ئې ۱۶ بلين امريکائي ډالر خرچه راتله[26] ـ

سر بېره لۀ دې يو شمېر کورنۍ بې کوره شوې او ټول کاروبارونه پۀ ټپه ودرېدل ـ ډېرې خوېندې سرتورې شوې او ډېرې مياندې بې اسرې شوې ـ ډېر ځوانان خړو اوبو يوړل او ډېر پلاران بې متهو شول ـ هر کله چې خړ سيندونه د انسانانو، څارۋو او لوښو لرګو نه ډک روان وو، د پښتونخوا کوڅه کوڅه پۀ ګنګخړو کښې لت پت او ډبه ډوبه پرته وه نو عېن پۀ دغه موقع پښتانۀ شاعران لګيا وو دغه منظرونه ئې پۀ شعرونو کښې ابدي کول او داسې ئې امر کړل چې د قيامت د ورځ پورې به د چا نه هېر نۀ شي ـ

د دې سېلاب پۀ ترڅ کښې چې پۀ پښتو کښې څومره شاعري وشوه نو ګورے کۀ د کومې بلې الميې پۀ اثر کښې شوې وي ـ تقريباً پۀ هر صنف کښې پرې طبع ازمائي شوې ده چې پکښې غزل، نظم، مثنوي، هائيکو، نثرم، قطعه، فرديات، چاربېته او ټپه پۀ خاصه توګه شامل دي ـ پۀ دې ټولو اصنافو کښې چې د سېلاب متعلق څومره شاعري شوې ده نو هغه دومره معياري ده چې سړے ورته ګوته پۀ خلۀ حېران پاتې شي ـ کۀ مونږ غزل ته پۀ ځير شو نو پۀ داسې وختونو کښې امام علي شاه منظر ډېر زر د حالاتو نه متاثره کېدونکے فنکار دے ـ هغۀ افت، مصيبت او پښتون د يو بل سره لاژم او ملزوم بولي او د سېلاب دغه خونړے منظر د کربلا سره مشابه کوي ـ

"داسې کېدے نۀ شي چې بلکل دې افت نۀ راځي
چې پښتون وي نو بيا به څنګه مصيبت نۀ راځي

هاغه دے تېر شو په اټک د تور پيکۍ پړونے
سېلابه اوس هم ستا موجونو کښې غېرت نۀ راځي
منم چې ټول وطن ئې يوړو خو يو کار خو وشو
په کربلا کښې به اوبو ته ضرورت نۀ راځي"[27]

په يو بل غزل کښې وائي چې دا سېلاب د خدائے عذاب نۀ وۀ بلکې دا د موسمي بدلون وجه ده۔

"زۀ قهر نۀ د موسمونو انقلاب يوړم
پښتون پېدا يم خپل قسمت خانه خراب يوړم
زۀ وايم دا د موسمونو د بدلون وجه ده
نادان ملا وائي چې دا د خدائے عذاب يوړم"[28]

په ورپسې يو بل شعر کښې د خپلې خاورې سره د بې کچه مينې له کبله سياسي بيانيه خپلوي، لکه چې وائي:

"ستا ګنګرو کښې دې مړ وے خو په خپل وطن کښې
سېلابه مړ دې کړم چې مړ دې په پنجاب يوړم"[29]

يو بل غزل کښې د پښتون وطن هغه بې وسي ژاړي چې سېلاب ئې ټول وطن يوسي او دے ورته په غټو غټو ګوري او هېڅ وس ئې پرې نۀ رسي۔ البته په مکارو او دروغژنو سياستمدارانو طنز ضرور کوي۔

"کابل ډوب دے او په سوات د غم چپې دي
په جنت کښې مې دا څنګه حادثې دي
حورې کيناستې د بل د کور خېرات ته
فرښتې په ګنګرو کښې پرتې دي
مات بنګړي چې تېربدل اوبو کښې پوي شوم
چې د سوات د جنت حورې جوړې مړې دي
يو خوا نيم نه زيات وطن اوبو کښې ډوب دے
بل خوا خپل خپل سياست دے او جلسې دي

څوښمه ورځ ده چې خپل وران وطن ته ژاړي
د منظر سترګې تر اوسه پورې سرې دي"[30]

د "پښتون" مجلې د ستمبر ۲۰۲۲ء په ګڼه کښې د فېصل فاران يو غزل خور شوے دے چې د سېلاب په تناظر کښې ليکلے شوے دے۔ کۀ يو خوا په دغه غزل کښې د سېلاب په تباه کارۍ قلم پورته شوے دے نو بل خوا پکښې د ښۀ ژوند او روښانه راتلونکي هيله هم موندے شي۔

"اوښکې ئې سترګو ته درياب راشي
په وچه ډوب شمه سېلاب راشي
لکه د خوب د شين بهار د سهار
په دې وچ شاخ به يو ګلاب راشي
بيا به ششنوبي پکښې وټوکېږي
بيا به ايلۍ په دې تالاب راشي
ده دشمني راسره سمه د سيند
په هر ګودر راته ګرداب راشي
وي زلزله، کله سېلاب فارانه
خو په دې خلکو څۀ عذاب راشي"[31]

هر کله چې د سېلاب چپو د کچه جونګړو سره سره پاخه کورونه هم په خپله ولقه کښې واخيستل نو يو شاعر دغه کېفيت په دې ډول خوندي کړو۔

"محلونو ته اوبۀ د سېلاب راغلې
خوار به څۀ ساتي جونګړه په باران کښې"[32]

د سوات د سيمې سميع الله ګران په يو شعر کښې دې سېلاب ته يو عذاب وئيلي دي، لکه چې وائي:

"رنګ په رنګه عذابونه دي او مونږ يو
زلزلې دي سېلابونه دي او مونږ يو"[33]

دغه رنګ یو بل شعر ئې ډېر معنیٰ خېز دے او هغه داسې چې خلقو د کورونو، پلازو او مارکیټونو د پاره خوړونه دومره راونیول او دومره ئې راتنګ کړل چې اوس پکښې د باران د اوبو ګزران پۀ ډېره ګرانه کېږي ـ ځکه خو د شاعر پۀ خیال انسان او خوړ ته د یو بل نه لویه خطره پېښه ده ـ

"زۀ او خوړ بېخي پۀ یو دیوال مشته یو
مونږه دواړو ته لۀ یو بل خطره ده"[34]

دا شان د دې سېلاب پۀ حواله یو شمېر نظمونه هم لیکلے شوي دي چې پکښې د نورالبشر نوید "د سېلاب ځپلو د پاره"، سید نور جلال جلال (پابند نظم)، امین الله داودزي (ازاد نظم) او اعجاز یوسفزي (معریٰ نظم) نومونه قدرې یادولے شو ځکه چې پۀ دې وړه غوندې مقاله کښې ئې احاطه کول ناممکن دي ـ

د سوات پۀ سیمه د دغه ناورین نقشه احسان یوسفزي د مثنوي پۀ هېئت کښې پۀ ډیره هنرمندئ راښکلې ده ـ یو څو شعرونه ترې د نمونې د پاره وړاندې کولے شي ـ

"ګل ګل وطنه موده پس اسوده حاله چې شوې
چې لږ ودان شوې، لږ اباد شوې، لږ سوکاله چې شوې
بیا هاغه سیند شولو پۀ قهر ترې سېلاب جوړ شو
بیا ستا د پاره مصیبت جوړ شو عذاب جوړ شو
پۀ تا ئې هغه کانې وکړلې ناترسه چپو
چې نوم نښان ئې کړلو ورک ستا د پټو، باغیچو
ستا ودانۍ عمارتونه ئې پۀ مخه یوړل
ښائسته بنګلې، پاخه کورونه ئې پۀ مخه یوړل
دا ځلې بیا ودانېدل دې راته ګران ښکاري
هاغه رونق پۀ ځاے کېدل دې راته ګران ښکاري"[35]

پۀ دې سېلاب کښې یوه درد ناکه واقعه د کوز کوهستان د "سناګۍ" پۀ "دبېر" نومې ځاے کښې رامنځ ته شوې وه چې پکښې پینځه وروڼه پۀ یوه لویه کمر راګېر شوي وو ـ د اګست پۀ ۲۶مه نېټه د حکومتي چارواکو سره د

ځائي خلقو د ځلورو پینځؤ ګهنټو د مسلسل رابطې باوجود د هېلي کاپټر پۀ ارمان دغه پینځه ساګانې د سېلاب سرکشه چپو غلې کړې ـ افتاب ګلبڼ دغه واقعه د "او هغوي لاړل"[36] د سرخط لاندې د نثرم پۀ هيئت کښې پۀ خوندور او علامتي انداز کښې ليکلې ده ـ

هم پۀ دې موضوع کرن خان پۀ يوه قطعه کښې خپل احساسات څۀ داسې بيانوي:

"زلزلې دي ، بدامني ده ، سېلابونه
د پښتون وطن قسمته عجيبه يې
پينځه ورونړه وو پۀ يو ځائے اوبو يوړل
تۀ تپوس کوې چې تۀ ولې خفه يې ؟"[37]

کۀ مونږه د سېلاب پۀ تناظر کښې د قطعې پۀ لور نظر وغورځوو نو پکښې د وطن او خاورې سره بې کچه مينه او قوميت تر سترګو کيږي ـ البته ځائے پۀ ځائے پکښې پۀ بې ضميره ليډرانو د طنز غشي هم ورولے شوي دي ـ دا دوه قطعې پۀ لوستلو ارزي:

"نښترې پربوتې ابادې ئې ويرانې کړلې
پنجاب ته يوړله زمونږ نه سېلابونو خاوره
د هغه قام بچے بچے دے قرضدارے د بل
چې چا سره دي زمرد او دلعلونو خاوره"[38]

"د خپلو ګلډرو هـره سلګۍ مې پۀ سلګو کـړي
چې وينمه زۀ بيا بيا پۀ خوبونو کښې سېلاب
بې رحـمه ضـــميرونه د بې حـسه ليډرانو
خرڅيږي د وطـن پۀ ايوانونو کښې سېلاب "[39]

خو بل اړخ ته يو شاعر د خپل سر دښمن ته هم خپل ورور وائي ځوک چې د دۀ د قام غم خوري ـ پۀ يوه قطعه کښې د سېلاب ځپلو سره خپله همدردي پۀ دې ډول ظاهروي ـ

"چې زما د قام غمخور دے
نو دشمن هم زما ورور دے

زما زړۀ پرې ډېر دردمند دے
چې سېلاب ئې وړے کور دے"[40]

دغه شان پۀ هائيکو کښې هم د سېلاب او سېلاب ځپلو تذکره شوې ده چې پکښې د ساجد افغان او فضل معبود ديار نومونه ښکاره دي ـ ساجد افغان ډېر پۀ مزاحيه انداز کښې د انسان او فطرت ډغرې ته اشاره کړې ده ـ وائي هر کله چې انسانانو د دواړو طرفونو نه د سيندونو لوښے راتنګ کړو نو پۀ داسې صورت کښې سېلاب راتلل يو طبعي او فطري امر وۀ ـ لکه چې وائي:

"نۀ شي د فطرت مخه نيولے څوک
تنګ مو کړو پۀ جنګ مو کړو راووتو
سين به مو پۀ يو او بل وراړوۀ"[41]

فضل معبود ديار د لږ ډېر بدلون سره خپل احساسات او جذبات مونږ سره پۀ دا شان شريکوي:

"سوات چې غره وۀ د کوم سيند پۀ يارۍ
نو هم هغۀ ورسره داسې وکړل
لکه چې څوک پۀ چا تېزاب ونولي "[42]

د ۲۰۲۲ء سېلاب يوه ځانګړنه دا هم ده چې د ۱۹۲۹ء سېلاب پۀ رنګ دلته هم د پښتو ټپې درک او وجود پۀ نظر راځي ـ د ټپې دغه وجود دا خبره ثبوت ته رسوي چې اولسي ادب پۀ هر حال کښې د اولس رېښتونے ترجمان پاتې شوے دے ـ زمونږ د څېړنې پۀ دوران يو شمېر داسې نوې ټپې مخې ته راغلې پۀ کومو کښې چې د سېلاب لۀ کبله د وطن د تباهۍ او بربادۍ نقشه راښکلې شوې وه ـ هسې خو دغه ټپې د شمېر نه زياتې دي خو دلته ترې د مثال پۀ توګه يو څو وړاندې کوو ـ

"راغلے مۀ وې د سوات سينده
پۀ نيمه شپۀ دې اشنغر اولړزونه"[43]
"دې لامبوزن جانان ته وايه
د سېلابونو چپې زړۀ چرته لري نه"[44]

"وطن مې خړو اوبو یوړو
لهٔ بې وسۍ مې ورته وژړل مئینه"[45]
" تسلي مهٔ راکوه یاره
لاسونه راکړه سمندر مې ډوبوینه"[46]
"زړهٔ مې ستا غم داسې برباد کړو
لکه د سوات سېلاب چې وران کړله ملکونه
سېلابه ډیر زیات دې حېران کړم
پوره به نهٔ شي تا راکړي نقصانونه"[47]

او دا خبره بیخي ربنتیا ده چې د سېلاب د لاسه چې کوم نقصانونه پهٔ ۲۰۲۲ء کښې شوي وو، هغه د نن تاریخه پورې پوره نهٔ شول ـ ځکه چې کوم انفراسټرکچر تباه شوے وهٔ هغه زیاتره هم پهٔ هغه زوړ تباه شوي حالت کښې پروت دے او کوم فصلونه او باغونه چې وړلے شوي وو، هغه خلاء تر ننه ډکه نهٔ شوه ـ

پهٔ دې مقاله کښې مونږ دې نتیجې ته ورسېدو چې ادب او پهٔ خصوصي توګه شاعري داسې څیز دے چې پکښې د نن حالات او واقعات ډېر پهٔ اسانه سره ځائېدے شي چې هم دا د یوې ټولنې ریښتونے تاریخ وي ـ پهٔ تېره تېره پښتو ادب کښې د(Disaster Management) موضوع دومره نوې، ځانګړې، خوره وره او دلچسپه ده چې د بي اېس، ایم فل او پي ایچ ډي د کچې مقالې پرې لیکلې کېدے شي ـ ځکه چې د اولسي ادب نه راونیسه تر د جدید ادب پورې پهٔ هر یو صنف کښې د قدرتي افتونو ذکر موجود دے ـ

# حوالې

[1] https://ur.m.wikipedia.org/wiki/%D8%B3%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%A8, Accessed Jan 10, 2024, 09:01 AM, PST.
[2] https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-sail-1?lang=ur, Accessed Jan 10, 2024, 08:53 AM, PST.
[3] https://g.co/kgs/xrgG3Fs, Accessed Jan 17, 2024, 02:48 PM, PST.
[4] https://www.merriam-webster.com/dictionary/flood#:~:text=%3A%20a%20rising%20and%20overflowing%20of,also%20%3A%20a%20condition%20of %20overflowing, Accessed Jan 17, 2024, 02:43 PM, PST.
[5] https://dailypakistan.com.pk/21-Aug-2013/50770, Accessed Feb 02, 2024, 10:38 AM, PST.

[6] د خوشحال بابا کلیات،مرتبه،پروفیسرډاکټریارمحمدمغموم خټک، (سمونه ،مقدمه حاشیې، تشریحات او فرهنګ)، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، ۲۰۱۶ء،ص ۲۷۳

[7] دیوانِ عبدالرحمان، ترتیب و مقدمه د محمد افضل رضا، زېب ارټ پبلشرز محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۰ء، ص ۱۶۱

[8] هم دغه، ص ۲۰۶

[9] هم دغه، ص ۲۰۷

[10] هم دغه، ص ۲۰۹

[11] سائل، رحمت شاه، قارېدلي سېلابونه، مشموله اووه ورځنۍ پښتون مجله، پېښور، ۱۳ نه تر ۱۹ اګست ۲۰۱۰ء،ص ۰۷

[12] طائر، محمد نواز، ټپه او ژوند،پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۰ء، ص۲۰۶

[13] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (ټپې)، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، ص۶۳

[14] هم دغه، ص ۳۲۹

[15] هم دغه، ص ۵۳۹

[16] https://pubs.usgs.gov/publication/70112348#:~:text=During%20August%20and%20September%201973,Indus%20River%20and%20major%20tributories, Accessed May 14, 2024, 10:17 AM, PST.

[17] پرېشان خټک، "تناکې" پینځم اېډیشن،یونیورسټي بک اېجنسي، پېښور، ۲۰۰۶ء، ص۱۵۶

[18] https://thefridaytimes.com/17-Aug-2023/climate-change-and-extreme-weather-events-flood-history-of-pakistan, Accessed Jan 17, 2024, 03:45 PM, PST.
[19] https://www.finance.gov.pk/survey/chapters_15/annex_111_flood.pdf, Accessed Jan 17, 2024, 04:22 PM, PST.
[20] https://thefridaytimes.com/17-Aug-2023/climate-change-and-extreme-weather-events-flood-history-of-pakistan, Accessed Jan 17, 2024, 03:45 PM, PST.

[21]https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=pfbid0urm1GJUzYapSUSjdUumbDhcbfqKatr74KSEqejMMsfokdPJEPzZRWCxu6QrAwjV3l&id=1719819818313511, Accessed Sep 12, 2022, 01:32 PM, PST.

[22] حسرت، محمد زبیر، ډاکټر،سېلاب، مشمول مجله "پښتون" اووۀ ورځنی، پېښور، ۱۳ نه تر ۱۹ اګست ۲۰۱۰ء، فلېپ

[23] پریشان ، محمد زرین " سپرلے د ے په لمبو کښې " حمنٰی پبلیکېشنز چارسده ، ۲۰۱۲، مخ ۱۰۱

[24] https://www.bbc.com/news/world-europe-62712301, Accessed Jan 20, 2024, 12:31 PM, PST.

[25] https://reliefweb.int/report/pakistan/ndma-monsoon-2022-daily-situation-report-no-158-dated-18th-nov-2022. Pdf, Accessed Jan 28, 2024, 01:11 PM, PST

[26] https://www.worldbank.org/en/news/press-release/2022/10/28/pakistan-flood-damages-and-economic-losses-over-usd-30-billion-and-reconstruction-needs-over-usd-16-billion-new-assessme, Accessed Jan 28, 2024, 01:38 PM, PST

[27]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid02wKPeFKpxXSxm1wRBnAgQ7NYiJjnYcc7q2tmV5ZkDH6AgeaCMTD3Ddfxkf9bgk6GZl/, Accessed Sept 02, 2022, 11:25 PM, PST.

[28]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid02nosTMUBRDvXc7zRmVV8MBsaRnNUvN3hXwx9A8FikdsaHAiHHBfyj3UdPN9JKf2Xml/, Accessed Sept 02, 2022, 11:30 PM, PST.

[29]Ibid

[30]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid024Kysu5c4HCpTgo9Fq5yyjUYALhhqSVLMWscSk3UXRq25oX4cPUPLULpyBrekuYz6l/,Accessed Sept 02, 2022, 11:31 PM, PST.

[31]فاران، فېصل، غزل، مشمول مجله "پښتون" میاشتنی، پېښور، ستمبر ۲۰۲۲ء، ص ۶۰

[32]https://www.facebook.com/100004115113869/posts/PST pfbid0HTqGgapDhNs1GjzNzk3neXb6i199wsgQCKUMTy7H3kuhi9tCChd8MyoWqWB3Cej5l/, Accessed Sept 04, 2022, 02:58 PM, PST.

[33]https://www.facebook.com/100006098520361/posts/pfbid02c9rNNH476jGjjq4nXVFCE1JJZq8f7gmhi63tgGkwGLGB1nXNK5TXryQisjqQ5no6l/, Accessed Sept 04, 2022, 04:33 PM, PST.

[34]https://www.facebook.com/100006098520361/posts/pfbid02N3YHaTBizCxS1PMBfsBWP4QPxQ9H97CQMWYvhMfwRht6W1Bku3ss3LmzdfHbd59yl/,Accessed Sept 04, 2022, 04:31 PM, PST.

[35]https://fb.watch/fmVDybR7dI/, Accessed Sept 06, 2022, 04:21PM, PST.

[36]https://www.facebook.com/109373144278447/posts/pfbid02EHNinatWZyiNYszbxXuTxDuQ6hFG54Q392vTupXKVqz6LFxCUrMGqTWJ7YQxu9jNl/, Accessed Sept 02, 2022, 11:19 PM,.

[37] https://fb.watch/fkb1VBGezu/, Accessed Sept 04, 2022, 02:42 PM, PST.

[38]https://www.facebook.com/100049336612511/posts/pfbid02vrxquz6oNwX7JvdvLnE6FZGTHrdRJ587fKTQe76ALa9gA22FH8jmZiqDxS7fU7NWl/ , Accessed Sept 10, 2022, 08:51 PM, PST.

[39]https://www.facebook.com/100003865337842/posts/pfbid0236zhwpJkWyhubUDU9ng9JZUZtAf3e2WD5BdxBQ5qwU1pqGYfrUzGzk4QUkXdEPcel/ , Accessed Sept 10, 2022, 09:05 PM, PST.

[40]https://www.facebook.com/100010594112856/posts/pfbid02hwzze68QczhLBfn58XkJDwnKJfJ6DYsho9716fap1TTXrCVtBvFdveTmSXb4Xse7l/, Accessed Sept 04, 2022, 04:18 PM, PST.

[41]https://www.facebook.com/100005243174101/posts/pfbid07c7ohcn3gY4Uzp9u7D4c3HX3Dd2At6ZgvdR8aKrjUGnicUREg42YQ6EGzxs7FFzol/, Accessed Sept 04, 2022, 04:13 PM, PST.

[42]https://www.facebook.com/100001868017316/posts/pfbid0JrRvdPSzfrDKsEPtRRKvQCzMuuovuTNRz87LEzuwykZzo9kLtfAsob4i7ubKkmVZl/, Accessed Sept 04, 2022, 04:15PM, PST.

[43]https://www.facebook.com/100040383706391/posts/pfbid02ZGm3ExfprckySdzHuYfdXXm6eTjGdRZFytmjR8oYoy666gmyuEgU9g5xrfYis29jl/, Accessed Sept 10, 2022, 08:52 PM, PST.
[44]https://www.facebook.com/100044265077632/posts/pfbid018mESHPkiPFMV9zH6kqT6MbBGa5R4qtAK35YxB7LibUpD47rRe8GyhNQ2RcuAPU6l/, Accessed Sept 04, 2022, 02:47 PM, PST.
[45]https://www.facebook.com/100005387912379/posts/pfbid02UDe5nzxj7QU8xcaJ6975Wf8WyJ5AoUKGCWkqrxmRem8Ej7CJqS7Kb6Wjot5Fu1FAl/,Accessed Sept 04, 2022, 02:56 PM, PST.
[46]https://www.facebook.com/100000502503207/posts/pfbid02wwRzsuotQZiTimRL2zyYKevnVgPJvjXawYgQDLb3DEJ4Qm4fg1nkiPBymiC4GUQjl/, Accessed Sept 04, 2022, 04:10 PM, PST.
[47]https://www.facebook.com/100027395743677/posts/pfbid0mbS3DgCFNqsJ9VHdLc2zTcAapWgdtkkE61gHsfroTqx6tthuxPb8jqdvW94ZzXogl/, Accessed Sept 05, 2022, 08:02 AM, PST.

## References in Roman:

[47] https://ur.m.wikipedia.org/wiki/%D8%B3%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%A8, Accessed Jan 10, 2024, 09:01 AM, PST.
[2] https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-sail-1?lang=ur, Accessed Jan 10, 2024, 08:53 AM, PST.
[3] https://g.co/kgs/xrgG3Fs, Accessed Jan 17, 2024, 02:48 PM, PST.
[4]https://www.merriam-webster.com/dictionary/flood#:~:text=%3A%20a%20rising%20and%20overflowing%20of,also%20%3A%20a%20condition%20of %20overflowing, Accessed Jan 17, 2024, 02:43 PM, PST.
[5] https://dailypakistan.com.pk/21-Aug-2013/50770, Accessed Feb 02, 2024, 10:38 AM, PST.
6 da khushal baba kulyat, murattaba prof. Dr. yar Muhammad maghmoom khattak, (samawana, muqaddima hashiye, tashrihaat aw farhang), university book agency Peshawar, 2016,p. 273
7 deewan e abdur Rahman, tartib wa muqaddima da prof. Afzal raza, zeb art publishers, muhalla jangi, Peshawar, 2000, p. 161
8 Ibid, P. 206
9 Ibid, P. 207
10 Ibid, P.209
11sayel, rahmat shah, Qaredali selabuna, mashmoola uwa wrazanai Pukhtoon Majjala, Peshawar, 13th to 19th Aug 2010, P. 07
12 tair, Muhammad Nawaz, tappa aw jwand, Pashto academy, Peshawar university, 1980, p. 206
13 salma shaheen, rohi sandare (Tappe), Pashto academy, Peshawar University, 1984, P.63
14 Ibid, P.329
15 Ibid, P.539
[16] tps://pubs.usgs.gov/publication/70112348#:~:text=During%20August%20and%20September%201973,Indus%20River%20and%20major%20tributories, Accessed May 14, 2024, 10:17 AM, PST.
17 pareshan khatak, "Tanrakey" 5th edition, university book agency, Peshawar, 2006, p.156
18 https://thefridaytimes.com/17-Aug-2023/climate-change-and-extreme-weather-events-flood-history-of-pakistan, Accessed Jan 17, 2024, 03:45 PM, PST.
[19] https://www.finance.gov.pk/survey/chapters_15/annex_111_flood.pdf, Accessed Jan 17, 2024, 04:22 PM, PST.
[20] https://thefridaytimes.com/17-Aug-2023/climate-change-and-extreme-weather-events-flood-history-of-pakistan, Accessed Jan 17, 2024, 03:45 PM, PST.

[21]https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=pfbid0urm1GJUzYapSUSjdUumbDhcbfqKatr74KSEqejMMsfokdPJEPzZRWCxu6QrAwjV3l&id=1719819818313511, Accessed Sep 12, 2022, 01:32 PM, PST.
22 Hasrat, Muhammad zubair, Dr., Selaab, mashmoola majjala "Pukhtoon"oua wrazanai, Peshawar, 13th to 19th Aug 2010, Flap
[23] https://www.bbc.com/news/world-europe-62712301, Accessed Jan 20, 2024, 12:31 PM, PST.
[24] https://reliefweb.int/report/pakistan/ndma-monsoon-2022-daily-situation-report-no-158-dated-18th-nov-2022. Pdf, Accessed Jan 28, 2024, 01:11 PM, PST
[25] https://www.worldbank.org/en/news/press-release/2022/10/28/pakistan-flood-damages-and-economic-losses-over-usd-30-billion-and-reconstruction-needs-over-usd-16-billion-new-assessme, Accessed Jan 28, 2024, 01:38 PM, PST
[26]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid02wKPeFKpxXSxm1wRBnAgQ7NYiJjnYcc7q2tmV5ZkDH6AgeaCMTD3Ddfxkf9bgk6GZl/, Accessed Sept 02, 2022, 11:25 PM, PST.
[27]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid02nosTMUBRDvXc7zRmVV8MBsaRnNUvN3hXwx9A8FikdsaHAiHHBfyj3UdPN9JKf2Xml/,Accessed Sept 02, 2022, 11:30 PM, PST.
[28] Ibid
[29]https://www.facebook.com/100044994218596/posts/pfbid024Kysu5c4HCpTgo9Fq5yyjUYALhhqSVLMWscSk3UXRq25oX4cPUPLULpyBrekuYz6l/, Accessed Sept 02, 2022, 11:31 PM, PST.
30 Faran, Faisal, Ghazal, Mashmool "Pukhtoon" Monthly, Peshawar, September 2022, P.60
[31]https://www.facebook.com/100000696421578/posts/pfbid0herb1VXxJGgQtXhFMVbr7gSdP6XrNRmP4LDcmk7YAxjHjXreAVF6hs1MkgPui2nhl/ , Accessed Sept 10, 2022, 08:59 PM, PST.
[32]https://www.facebook.com/100004115113869/posts/pfbid0HTqGgapDhNs1GjzNzk3neXb6i199wsgQCKUMTy7H3kuhi9tCChd8MyoWqWB3Cej5l/, Accessed Sept 04, 2022, 02:58 PM, PST.
[33]https://www.facebook.com/100006098520361/posts/pfbid02c9rNNH476jGjjq4nXVFCE1JJZq8f7gmhi63tgGkwGLGB1nXNK5TXryQisjqQ5no6l/, Accessed Sept 04, 2022, 04:33 PM, PST.
[34]https://www.facebook.com/100006098520361/posts/pfbid02N3YHaTBizCxS1PMBfsBWP4QPxQ9H97CQMWYvhMfwRht6W1Bku3ss3LmzdfHbd59yl/,Accessed Sept 04, 2022, 04:31 PM,PST.
[35]https://fb.watch/fmVDybR7dI/, Accessed Sept 06, 2022, 04:21PM, PST.
[36]https://www.facebook.com/109373144278447/posts/pfbid02EHNinatWZyiNYszbxXuTxDuQ6hFG54Q392vTupXKVqz6LFxCUrMGqTWJ7YQxu9jNl/, Accessed Sept 02, 2022, 11:19 PM,PST.
[37] https://fb.watch/fkb1VBGezu/, Accessed Sept 04, 2022, 02:42 PM, PST.
[38]https://www.facebook.com/100049336612511/posts/pfbid02vrxquz6oNwX7JvdvLnE6FZGTHrdRJ587fKTQe76ALa9gA22FH8jmZiqDxS7fU7NWl/ , Accessed Sept 10, 2022, 08:51 PM, PST.
[39]https://www.facebook.com/100003865337842/posts/pfbid0236zhwpJkWyhubUDU9ng9JZUZtAf3e2WD5BdxBQ5qwU1pqGYfrUzGzk4QUkXdEPcel/,Accessed Sept 10, 2022, 09:05 PM, PST.
[40]https://www.facebook.com/100010594112856/posts/pfbid02hwzze68QczhLBfn58XkJDwnKJfJ6DYsho9716fap1TTXrCVtBvFdveTmSXb4Xse7l/, Accessed Sept 04, 2022, 04:18 PM, PST.
[41]https://www.facebook.com/100005243174101/posts/pfbid07c7ohcn3gY4Uzp9u7D4c3HX3Dd2At6ZgvdR8aKrjUGnicUREg42YQ6EGzxs7FFzol/, Accessed Sept 04, 2022, 04:13 PM, PST.
[42]https://www.facebook.com/100001868017316/posts/pfbid0JrRvdPSzfrDKsEPtRRKvQCzMuuovuTNRz87LEzuwykZzo9kLtfAsob4i7ubKkmVZl/, Accessed Sept 04, 2022, 04:15PM, PST.
[43]https://www.facebook.com/100040383706391/posts/pfbid02ZGm3ExfprckySdzHuYfdXXm6eTjGdRZFytmjR8oYoy666gmyuEgU9g5xrfYis29jl/, Accessed Sept 10, 2022, 08:52 PM, PST.

[44]https://www.facebook.com/100044265077632/posts/pfbid018mESHPkiPFMV9zH6kqT6MbBGa5R4qtAK35YxB7LibUpD47rRe8GyhNQ2RcuAPU6l/, Accessed Sept 04, 2022, 02:47 PM, PST.

[45]https://www.facebook.com/100005387912379/posts/pfbid02UDe5nzxj7QU8xcaJ6975Wf8WyJ5AoUKGCWkqrxmRem8Ej7CJqS7Kb6Wjot5Fu1FAl/, Accessed Sept 04, 2022, 02:56 PM, PST.

[46]https://www.facebook.com/100000502503207/posts/pfbid02wwRzsuotQZiTimRL2zyYKevnVgPJvjXawYgQDLb3DEJ4Qm4fg1nkiPBymiC4GUQjl/,Accessed Sept 04, 2022, 04:10 PM, PST.

[47]https://www.facebook.com/100027395743677/posts/pfbid0mbS3DgCFNqsJ9VHdLc2zTcAapWgdtkkE61gHsfroTqx6tthuxPb8jqdvW94ZzXogl/, Accessed Sept 05, 2022, 08:02 AM, PST.